د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او د ښوونکو د روزنې معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د
تالیف لوی ریاست

# حسن خط

## لومړی ټولګی



د چاپ کال: ۱۳۹۶ هـ. ش.

افغانستان

خانهٔ مشترك همهٔ ما است.

زموږ د ټولو ګډ کور دی.

درسي کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري. پیرودل او پلورل یې په کلکه منعه دي. له سر غړوونکو سره به یې قانوني چلن وشي.

moe.curriculum@gmail.com



# ملي سرود

دا وطن افغانستان دی
دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې
هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی
د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو
د ترکمنو د تاجکو
ورسره عرب، گوجر دي
پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي
هم ایماق، هم پشه یان
دا هیواد به تل ځلیږي
لکه لمر پر شنه آسمان
په سینه کې د آسیا به
لکه زړه وي جاویدان
نوم د حق مو دی رهبر
وایو الله اکبر وایو الله اکبر

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د پوهنې وزارت
د تعليمي نصاب د پراختيا او د ښوونکو د روزنې معينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف
لوی رياست

# حسن خط

## لومړی ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۹۶هـ . ش.

**لیکوالان:**

- د سرمؤلف مرستیال محمد غالب الله یار د هنرونو د دیپارتمنت آمر
- عزیز الله حسن زاده د هنرونو د دیپارتمنت علمي غړی
- سید انور میچنخیل د هنرونو د دیپارتمنت علمي غړی.

**د تدقیق کمیسیون**

- سرمؤلف میر نقیب الله د تعلیمي نصاب د پراختیا ریاست علمي غړی.
- پوهندوی دکتور فضل الهادي وزین
- سرمؤلف علي الله جلیل د درسي کتابونو د تالیف رئیس.
- د سرمؤلف مرستیاله فروزان خاموش د تعلیمي نصاب د پراختیا ریاست علمي غړې.
- د سرمؤلف مرستیاله مریم منزه کوهستاني د تعلیمي نصاب د پراختیا ریاست علمي غړې.

**علمي ایډیټ:**

- د سرمؤلف مرستیال محمد غالب الله یار د هنرونو د دیپارتمنت آمر.

**د ژبې ایډیټ:**

- د سرمؤلف مرستیال محمد قدوس زکوخیل د تعلیمي نصاب د پراختیا په ریاست کې کارمند

**دیني، سیاسي او فرهنگي کمیټه:**

- حبیب الله راحل د تعلیمي نصاب د پراختیا په ریاست کې، د پوهنې وزارت سلاکار.

**د څارنې کمیټه**

-دکتور اسدالله محقق د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د روزنې معین
- دکتور شېر علي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې مسؤول
- دکتور محمد یوسف نیازي د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی ریاست سرپرست

**کمپوز او ډیزاین:** رحمت الله غفاري او احمد فرهاد نوري

**د چاپ د سمون چارې:** محمد کبیر حقمل د پوهنې وزارت د نشراتو او اطلاعاتو رئیس.

بسم الله الرحمن الرحیم

## د پوهنې د وزير پيغام

د لوی خدای ﷻ ډير شکر دی چې انسان يې په احسن تقويم کې پيدا او هغه ته يې د خبرو کولو توان ورکړ او د علم او فکر پرګاڼه يې سمبال کړ. ډير درود دې وي د اسلام پرګران پيغمبر حضرت محمد مصطفی ﷺ چې د انسانيت ستر ښوونکی دی او د رحمت، لارښوونې او روښنايي پيغام راوړونکی.

ښوونه او روزنه په هره ټولنه کې د بدلون او پراختيا بنسټ دی. د ښوونې او روزنې اصلي موخه د انسان د بالقوه ځواکونو فعالول او د هغه د پټو استعدادونو غوړول دي.

درسي کتاب د ښوونې او روزنې په بهير کې يو مهم رکن بلل کيږي چې له نوو علمي بدلونونو او پرمختګونو سره اوږه په اوږه د ټولنې له اړتياوو سره سم تاليف کيږي. درسي کتابونه بايد د منځپانګې له مخې خورا بډای وي چې وکړای شي د علومو له نوو لاسته راوړنو سره مل ديني او اخلاقي زده کړې د نوو ميتودونو له لارې زده کوونکو ته وليږدوي.

دغه کتاب چې اوس ستاسو په واک کې دی، د همدغو پورته ځانګړنو پر بنسټ چمتو او تاليف شوی دی. د پوهنې وزارت تل زيار باسي چې په هيواد کې تعليمي نصاب او درسي کتابونه د اسلامي ښوونې او روزنې او د ملي هويت د ساتلو پر بنسټ جوړ او له علمي معيارونو، نوو روزنيزو ميتودونو او د نړۍ له علمي پرمختګونو سره سم چمتو کړي. د زده کوونکو استعدادونه په ټولو اخلاقي او علمي خواوو کې وغوړيږي او په هغوی کې د تفکر او نوښت توان او د پلټنې حس پياوړی کړي. د خبرو اترو او پيرزوينې د فرهنګ دودول، د هيواد پالنې او د مينې او محبت د حس پياوړی کول، ښښنه او پيوستون د پوهنې د وزارت نورې غوښتنې دي چې ښايي د لوست په کتابونو کې ورته پام وشي.

درسي کتابونه د ښه او مسلکي ښوونکي له درلودو پرته نشي کولای ټاکل شوي موخې ترلاسه کړي. ښوونکی د ښوونې او روزنې يو مهم جزء او د ښوونې او روزنې د پروګرامونو پلي کوونکی دی. د هيواد له ژمنو او زړه سواندو ښوونکو څخه، چې د تورتم او ناپوهی په وړاندې يې جګړه خپله دنده ګرځولې، دوستانه هيله لرم د تعليمي نصاب په دقيق او مخلصانه تطبيق کې د هيواد ماشومان، نجونې او تنکي ځوانان د پوهې، اخلاقو او معنويت لوړو څوکو ته ورسوي.

د هيواد د زده کړې د نظام بری د خلکو له جدي مرستو پرته امکان نه لري. له دې امله له ټولو قشرونو او د ملت له شريفو خلکو، په تيره بيا له کورنيو او د زده کوونکو له درنو اولياوو څخه هيله لرم چې د معارف د موخو د لاسته راوړو په برخه کې له هيڅ ډول مرستې څخه ډډه ونه کړي. دغه راز له ټولو ليکوالو، پوهانو، د ښوونې او روزنې له ماهرينو او د زده کوونکو له محترمو اولياوو څخه هيله کيږي چې په خپلو رغنده نظرونو، وړانديزونو او نيوکو د درسي کتابونو په لاښه والي کې د پوهنې له وزارت سره مرسته وکړي.

لازمه بولم له ټولو ښاغلو مؤلفانو، د پوهنې وزارت له اداري او فني کارکوونکو او له ملي او نړيوالو بنسټونو څخه، چې د دغه کتاب په چمتو کولو، چاپولو او ويش کې يې زيار ايستلی او مرسته يې کړې، مننه وکړم.

په پای کې له لوی خدای ﷻ څخه غواړم چې په خپله بې پايه مهرباني له موږ سره د پوهنې د سپيڅلو ارمانونو په لاسته راوړلو کې مرسته وکړي. انه سميع قريب مجيب.

**د پوهنې وزير**

**دوکتور اسدالله حنيف بلخي**

# لړلیک

**سرلیك**..........**مخ**


لومړی لوست: د خطاطي وسایل .......... ۱
دویم لوست: ټکی ( نقطه ) .......... ۲
دریم لوست: د (آ) توری .......... ۳
څلورم لوست: د (ب) توری او هغه توري چې (ب) ته ورته وي .......... ٤
پنځم لوست: د (ج) توری او هغه توري چې (ج) ته ورته وي .......... ٥
شپږم لوست: د (د) توری او هغه ته ورته توري .......... ٦
اووم لوست: د (ر) توری او هغه ته ورته توري .......... ۷
اتم لوست: د (س) توری او هغه ته ورته توري .......... ۸
نهم لوست: د (ص) توری او هغه ته ورته توري .......... ۹
لسم لوست: د (ط) توری او هغه ته ورته توري .......... ۱۰
یوولسم لوست: د ( ع) توری .......... ۱۱
دولسم لوست: د (ف) توری .......... ۱۲
دیارلسم لوست: د (ق) توری .......... ۱۳
څوارلسم لوست: د (ک) توری .......... ۱٤
پنځلسم لوست: د ( گ) توری .......... ۱٥
شپاړسم لوست: د (م) توری .......... ۱٦
اوولسم لوست: د (ه ) توری .......... ۱۷
اتلسم لوست: د (ن) توری .......... ۱۸
نولسم لوست: د (و) توری .......... ۱۹
شلم لوست د (ه) توری .......... ۲۰
یوویشتم لوست د (ی) توری .......... ۲۲
دویمه برخه: د ښوونکي لارښود برخه .......... ۲۳-۳۰

# لومړی برخه

## د خطاطۍ وسایل

موخه: د خطاطۍ د وسایلو پېژندنه او له هغې څخه سمه ګټه اخیستل.

### پوښتنه


۱- آیا له دې وسایلو سره مو پخوا بلدتیا در لوده؟

### فعالیتونه

لاندې شکل ته پاملرنه وکړئ، یو بل ته یې وښیئ او نومونه یې واخلئ.


د کړکي قلم


قلم جوړونکی


قط وهونکی یا پرې کوونکی


لیقه (د وریښمو یا د ګنډلو تارونه)


مشوانۍ

### کورنۍ دنده


زده کوونکي دې د خطاطۍ وسایل، لکه: (د کړکي قلم، مشوانۍ او د خامک ګنډلو تارونه) برابر او ټولګي ته راوړي.

# ټکی ( نقطه )

موخه: زده کوونکي به د کړکي قلم له سمو نیولو سره بلدتیا پیدا کړي.

## پوښتنه

۱- آیا تاسو ټکی پېژنئ؟




## فعالیتونه

زده کوونکي دې پخپلو کتابچو کې د کړکي پر قلم د ټکو ایښودل تمرین کړي.

## کورنۍ دنده


زده کوونکي دې دا ټکي ( ) په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړي.

# د (آ) توری

موخه: زده کوونکي به د (آ) توری او د (مد) له شکل او لیکلو سره بلد شي.

## پوښتنه

۱-آیا تاسو غواړئ چې لیک مو ښکلی شي؟




## فعالیتونه

زده کوونکي دې د (آ) توری د کړکي په قلم تمرین کړي.

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د (ا، آ) توري پخپلو کتابچو کې په کړکي قلم یا پنسل تمرین کړي.


# د ( ب ) توری

موخه: د ( ب ) او هغې ته د ورته تورو له ليکلو سره د زده کوونکو بلدتيا.



پوښتنه

۱- ستاسو په نظر د ( ب) او ( ب، ت،ټ، ث ) توري څه توپيرسره لري؟







فعاليتونه

زده کوونکي دې سرمشق په غور او دقت وګوري پورتني توري دې د کرکې په قلم د کتاب له مخې په خپلو کتابچو کې تمرين کړي او يو بل ته دې وښيي.



کورنۍ دنده


زده کوونکي دې د ( ب، ت،ټ، ث او پ ) توري پر کرکې قلم او پنسل تمرين کړي.

# د (ج) توری

موخه: د (ج) او هغه ته د ورته تورو له ليکلو سره د زده کوونکو بلدتيا.

## پوښتنه

۱- ستاسو په نظر د (ج) توری څنګه ليکل کيږي؟




## فعاليتونه

زده کوونکي دې د (ج) او هغه ته ورته توري د کتاب د نمونې له مخې د کړکي پر قلم تمرين کړي.

## کورنۍ دنده


زده کوونکي دې د (ج) توری د کړکي پر قلم يا پنسل تمرين کړي.

# د ( د ) توری

موخه: د ( د ) ، (ذ) او ( ډ ) تورو له لیکلو سره دزده کوونکو بلدتیا.

## پوښتنه

۱- که د ( د ) توري په سر یوَ ټکی کیښودل شي، څنګه لوستل کېږي؟






## فعالیتونه

زده کوونکي دې د (د) او هغه ته ورته توري د کړکي په قلم د نمونې له مخې تمرین کړي.

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د (د، ذ او ډ) توري په کړکي قلم او پنسل تمرین کړي.


# د ( ر ) توری

موخه: د ( ر ) او هغې ته د ورته تورو له ليکلو سره د زده کوونکو بلدتيا.



## پوښتنه

۱- ستاسو په نظر (ر) توري له (ز) او ژ تورو سره څه توپير لري؟








## فعالیتونه

زده کوونکي دې د ( ر ) توری د کتاب د نمونې له مخې د کرکې په قلم تمرين کړي.



## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې پخپلو کتابچو کې د (ر، ړ، ز ، ږ او ژ) توري په پنسل تمرين کړي.


# د ( س ) توری


موخه: د ( س ) او هغه ته د ورته تورو له ليکلو سره د زده کوونکو بلدتيا.



پوښتنه

۱- آيا ويلای شئ چې د ( س )، ( ش ) او (ښ) تورو توپير په څه کې دی؟







فعالیتونه

زده کوونکي دې د ( س )، ( ش ) او (ښ) توري په غور سره وګوري او غابښونه دې وشمېري او د کړکي په قلم دې د کتاب د سرمشق له مخې تمرين کړي.



کورنۍ دنده


زده کوونکي دې د ( س )، ( ش ) او (ښ) توري په کړکي قلم او يا پنسل تمرين کړي.


# د ( ص ) توری

موخه: زده کوونکي به د ( ص او ض ) د تورو له ليکلو سره بلد شي.

## پوښتنه

-آیا پوهيږي چې د (ص) توری د قلم په څو حرکتو ليکل کيږي؟





## فعاليتونه

زده کوونکي دې د نمونې له مخې دص او ض توري په پنسل او يا کرکي قلم تمرين کړي.

## کورنۍ دنده


زده کوونکي دې پخپلو کتابچو کې د (ص او ض) توري په پنسل او يا کرکي قلم تمرين کړي.

# د ( ط ) توری

**موخه**: زده کوونکي به د (ط) او (ظ ) له ليکلو سره بلد شي.

## پوښتنه

۱- لاندينۍ نمونه وګورئ د (ط) توری په څو رنګو ليکل شوی دی؟






## فعاليتونه

زده کوونکي دې پورتنۍ نمونې ته وګوري، بيا دې په کړکي قلم يا پنسل هغه تمرين کړي.

## کورنۍ دنده


زده کوونکي دې پخپلو کتابچو کې د (ط ) توری په کړکي قلم او پنسل تمرين کړي.

# د ( ع ) توری

موخه: د ( ع او غ ) د تورو له لیکلو سره د زده کوونکو بلدتیا.

## پوښتنه

۱- ستاسو په نظر څه وخت کولای شو چې توري ښکلي ولیکو؟






## فعالیتونه

زده کوونکي دې نمونې ته وګوري چې د ( ع ) له توري سره بلد شي، وروسته دې هغه د کرکې په قلم تمرین کړي.

## کورنۍ دنده


زده کوونکي دې د ( ع او غ ) توري په پنسل او د کرکې په قلم تمرین کړي.

# د (ف) توری

**موخه**: زده کوونکي به د ( ف ) توري له ليکلو سره بلد شي.

## پوښتنه

۱ - آيا تاسو پوهيږئ چې د (ف) توری په څو حرکتو ليکل کيږي؟






## فعاليتونه

زده کوونکي دې نمونې ته وګوري، د حرکتونو شمېر دې حساب کړي، وروسته دې هغه پخپلو کتابچو کې په کړکي قلم تمرين کړي.

## کورنۍ دنده


زده کوونکي دې د ( ف او ب ) توري په پنسل او د کړکي په قلم تمرين کړي.

# د ( ق ) توری

موخه: د ( ق ) د توري له لیکلو سره د زده کونکو بلدتیا.

**پوښتنه**

-آیا تاسو ویلای شئ چې له (ف) څخه وروسته کوم توری راځي؟






**فعالیتونه**

زده کوونکي دې پخپلو کتابچو کې د ( ق ) توری په کړکي قلم سره ولیکي.

**کورنۍ دنده**


زده کوونکي دې د ( ق او ف ) توري په کړکي قلم او په پنسل تمرین کړي.

# د ( ک ) توری

**موخه:** زده کوونکي به د ( ک ) او ( گ ) د تورو له ليکلو سره بلد شي.

**پوښتنه**

۱- آيا پوهېږئ چې د (ک) توری څه ډول ليکل کېږي؟






**فعاليتونه**

زده کوونکي دې د (ک) توری په غور سره وګوري او وروسته دې هغه د کړکي په قلم تمرين کړي.

**کورنۍ دنده**

زده کوونکي دې د (ک او گ) توري په پنسل او د کړکي په قلم تمرين کړي.


# د ( گ ) توری

موخه: زده کوونکي به د (گ) توري له ليکلو سره بلد شي.



## پوښتنه

۱- آيا ويلی شي چې د (گ) توری له کوم توري وروسته راځي او څنګه ليکل کيږي؟








## فعاليتونه

زده کوونکي دې په پورتنۍ نمونه په کړکي قلم تمرين کړي.

## کورنۍ دنده


زده کوونکي دې د ( گ ) توري په پنسل او د کړکي په قلم تمرين کړي.


# د ( ل ) توری

موخه: د ( ل ) توري له ليکلو سره د زده کوونکو بلدتيا.

## پوښتنه

۱- آيا ويلای شئ چې د ( گ) توري وروسته کوم توری راځي او څه ډول ليکل کېږي؟



## فعاليتونه

زده کوونکي دې د ( ل ) توري ته په غور وګوري او بيا دې په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق کړي.

## کورنۍ دنده


زده کوونکي دې د (ل) توری په کړکي قلم او پنسل تمرين کړي.


# د ( م ) توری

موخه: د ( م ) توري له ليکلو سره د زده کوونکو بلدتيا.

### پوښتنه

۱-آيا ويلای شئ چې د اسلام د ستر پيغمبر حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د نوم لومړی توری کوم دی؟



### فعاليتونه

زده کوونکي دې نمونې ته وګوري او بيا دې د ( م ) توری د کرکې پر قلم تمرين کړي.

### کورنۍ دنده


زده کوونکي دې پخپلو کتابچو کې د ( م ) توری د کرکې په قلم او پنسل تمرين کړي.


# د ( ) توری

موخه: د ( ) توري د بلې بڼې له ليکلو سره د زده کوونکو بلدتيا.

## پوښتنه

۱- دا ډول ( ) مو په کوم ځای کې ليدلی و او څه ډول ليکل کيږي؟





## فعاليتونه

زده کوونکي دې د ( ) توری په غور وګوري او بيا دې په کرکې په قلم تمرين کړي.

## کورنۍ دنده


زده کوونکي دې د ( م او ) توري دواړه بڼې په پنسل او د کرکې په قلم تمرين کړي.


# د ( ن ) توری

موخه: د ( ن ) دتوري له ليکلو سره د زده کوونکو بلدتيا.

## پوښتنه

١- آيا تاسو ويلای شئ چې د (ن) توری له کوم توري څخه وروسته راځي؟



## فعاليتونه

زده کوونکي دې پورتنۍ نمونه وګوري او وروسته دې په کړکي قلم تمرين کړي.

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د (ن) توری په کړکي قلم او پنسل تمرين کړي.


# د ( و ) توری

موخه:د ( و ) توري له ليکلو سره د زده کوونکو بلدتيا.

## پوښتنه

١ - آيا تاسو پوهېږئ چې د( وطن) د کلمې لومړي توری کوم دی او څه ډول ليکل کېږي؟



## فعاليتونه

زده کوونکي دې د ( و ) توری د کرکې په قلم تمرين کړي.

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې پخپلو کتابچو کې د ( و ) توری په کرکې قلم او پنسل تمرين کړي.

# د (هـ) توری


موخه: د (هـ) توري له ليکلو سره د زده کوونکو بلدتيا.



پوښتنه

۱- ستاسو په نظر د (ه او هـ) توري څه ډول ليکل کېږي؟








فعاليتونه

زده کوونکي دې د (هـ) توري ته په غور وګوري او په کړکي قلم دې تمرين کړي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د (هـ) توری د کړکي په قلم او پنسل تمرين کړي.

# د ( ى ) توری

موخه: د ( ى ) دتوري له ليكلو سره د زده كوونكو بلدتيا.

## پوښتنه

۱-آيا تاسو پوهيږئ چې د ( ى ) توری په څو بڼو ليكل كيږي؟






## فعاليتونه

زده كوونكي دې د ( ى ) توري ته په غور وګوري او بيا دې د كړكي په قلم تمرين وكړي.

## كورنۍ دنده

زده كوونكي دې د ( ى ) توری په كړكي قلم او پنسل تمرين كړي.

# دویمه برخه

## د حسن خط د تدریس لارښود

لومړی لوست

(۱) مخ

لومړی درسي ساعت

(د تدریس وخت دوه درسي ساعته)

| د لوست سرلیک | د خط وسایل | |
|---|---|---|
| عمومي موخې | د خطاطي د وسایلو پېژندنه او له هغه څخه دګټې اخیستنې لارې. | |
| د زده کړې موخې (پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي) موخې | له زده کوونکو هیله کېږي چې د دې لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسیږي.<br>• زده کوونکي به د خطاطي له وسایلو سره بلد شي.<br>• زده کوونکي به د کرکي قلم سم ونیولای شي او هم به له مشوانۍ څخه په رنګ اخیستلو وپوهېږي.<br>• زده کوونکي به د خطاطي له وسایلو او خطاطي سره مینه پیدا کړي. | |
| د تدریس لارې | ډله ییز او ځانګړي فعالیتونه، پوښتنې او ځوابونه. | |
| د تدریس اړین توکي | کتاب، کتابچه، قلم، پنسل، پنسل پاک، د کرکي قلم، تباشیر، مشوانۍ او خط کش. | |
| د ارزولو طریقه | عملي او مشاهدوي. | |
| لومړني یا مقدماتي فعالیتونه | له سلام او لنډې احوال پوښتنې وروسته، د ټولګي تنظیم، د حاضرۍ اخیستل، د نوی کال مبارکي او د خطاطي د وسایلو په اړوند خبرې. | وخت ۵دقیقې |
| | **د انګیزې رامنځ ته کولو پوښتنه:**<br>- آیا تاسې د خطاطي وسایل پېژنئ او کله مو په کرکي قلم مشق کړیدی؟ | ۵ دقیقې |

| د ښوونکي فعالیتونه | وخت |
|---|---|
| -له زده کوونکي څخه د لوست په اړوند پوښتنې وکړئ.<br>-لوست تشریح او توضیح کړئ.<br>- د کړکي قلم په واسطه د مشق کولو لارې او طریقې وروښیې.<br>-د لوست فعالیتونه ترسره کړئ.<br>- زده کوونکو ته کورنۍ دنده ورکړئ. | ۳۵<br>دقیقه |
| **ارزونه**: د خپل ډاډ د ترلاسه کولو لپاره چې زده کوونکي پرلوست پوهیدلي او که نه، د څو پوښتنو په کولو هغوی وارزوئ. | |
| **کورنۍ دنده**: له سرمشق سره سمه نقطه مشق او تمرین کړئ، بله ورځ یې ټولګي ته راوړي. | |

**اضافي معلومات**

•**د خطاطۍ کاغذ**: له هغه کاغذ څخه عبارت دی چې شفاف او نسبتاً ښویه (لشم) وي او دکړکي قلم پرې په اسانۍ سره وخغلي او رنګ نشر ونه کړي.

•دکړکي قلم: کله چې دورمې ښې پخې شي، بیاترې د کړکي قلم جوړوو چې ښه جوړ یا سرشي، ترڅو د قلم د لیکلو څوکه ژر خرابه نشي.

د خطاطۍ لپاره داسې کړکۍ وټاکئ چې اوږدې وي او بندونه ونه لري او یایې بندونه په وروستۍ برخه کې وي، ځکه چې بندونه د لاس د ازار سبب کېږي.

•**قلم تورونکی**: یوځانګړی چاقودی، تیغه یې یوڅه نازکه او د تیغې شایې نرۍ وي چې قلم په ښه توګه وتوږلی شي.

•**پرې کوونکی**: ډېره کلکه وسیله ده چې له کلک لرګي او یا د ښاروېو له ښکر څخه یې جوړه وي او یا د غر څه له ښکرو څخه جوړېږي چې د قلم د نوکې لاندې ایښودل کېږي او قلم پرې قط کېږي.

دويم لوست

(۲) مخ

لومړی درسي ساعت

(د تدریس وخت دوه درسي ساعته)

| د لوست سرلیک | نقطه | |
|---|---|---|
| عمومي موخې | د کرکي په قلم د نقطې(ټکي) ایښودل او د قلم له نیولو سره د زده کوونکو بلدتیا. | |
| د زده کړې موخې<br>(پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي) موخې | له زده کوونکي به هیله کېږي چې د هر لوست په پای کې لاندې موخوته ورسیږي<br>• زده کوونکي په کرکي قلم سره مشق او تمرین وکړای شي.<br>• زده کوونکي به د کرکي قلم نیول سم زده او د کرکي د قلم به واسطه د کاغذ پر مخ ټکی (نقطه) ولیکلای شي.<br>• زده کوونکي به د کرکي قلم له مشق او تمرین سره مینه پیدا کړي. | |
| د تدریس لارې | دله ییز او ځانګړي فعالیتونه، پوښتنې او ځوابونه. | |
| د تدریس اړین توکي | کتاب، کتابچه، قلم، پنسل، پنسل پاك، د کرکي قلم، تباشیر، مشواني او خط کش. | |
| د ارزونو لارې | عملي او مشاهدوي. | |
| لومړني یا مقدماتي فعالیتونه | سلام اچول،پوښتنه د حاضرۍ اخیستل، د ټولګي تنظیم، د کورنۍ دندې لیدنه، له تېر لوست یادونه او له نوي لوست سره یې اړیکې. | وخت ۵دقیقې |
| | **د انګیزې رامنځ ته کولو پوښتنه:**<br>-تاسې د خطاطي وسایل پېژنئ، کله مو په کرکي قلم مشق او تمرین کړیدی؟ | ۵ دقیقې |

| وخت | د ښوونکي فعالیتونه |
| --- | --- |
| ۳۵<br>دقیقه | -له زده کوونکو د لوست په اړوند پوښتنې وکړئ.<br>- لوست تشریح کړئ.<br>-زده کوونکو ته په کرکي قلم د مشق او تمرین لارښوونه وکړئ.<br>-زده کوونکي و ارزوئ.<br>-زده کوونکو ته کورنۍ دنده ورکړي. |

**ارزونه**: د خپل ډاډ ترلاسه کولو لپاره چې زده کوونکي په لوست پوهیدلي دي او یانه، د څو پوښتنو په کولو هغوی وارزوئ.

**کورنۍ دنده**: کله مو نقطې(ټکي) په کرکي قلم مشق او تمرین کړیدی؟

## اضافي معلومات

•**لیقه**: د الیافو له جربو، وریښمو او یا د خامک ګنډلو له سُنډو څخه لاسته راځي، خو لومړی باید پر اوبو او صابون پاک پریمنځل شي، هغه کیمیاوي مواد یې له منځه لاړشي او تر وچیدو وروسته په بوتل کې ځای پر ځای کېږي. لیقه د رنګ له چپه کېدو، د کاغذ پرمخ د قلم د رنګ زیاتوالي، دلاس ککړیدل او دجامو د ککړیدو مخنیوی کوي.

•**سیاهي**: هغه رنګ دی چې د مشق کولو لپاره ترې ګټه اخېستل کېږي او په بازار کې د کرکي قلم د سیاهي په نوم یادېږي. پخوا خلکو سیاهي له ترکیبي موادو څخه لاسته رواړه، له همدې کبله د مرکب پر نوم هم یادېږي.

•**مشوانۍ**: هغه بوتل دی چې (سیاهي او لیقه) پکې اچول کېږي. باید داسې بوتل و ټاکو چې خوله یې د نورو بوتلونو پر نسبت لویه وي.

•**د کرسي خط**: مستقیم افقي خط دی چې د پنسل او خط کش په واسطه تت او کم رنګه ایستل کېږي چې په استقامت یې خط سم ولیکل شي.

ښوونکی دې زده کوونکو ته سپارښتنه وکړي چې د مشق کتابچه، د کرکي قلم او مشوانۍ له ځان سره ولري. زده کوونکي دې وپوهوي چې د مشق په کتابچو کې تمرین وکړي او په درسي کتاب کې له لیکلو څخه ډډه وکړي، خپل قلمونه دې له مشق کولو وروسته له رنګ  څخه پاک کړي.

ښوونکی دې د زده کوونکو د قلمونه جوړکړي او پر چاقو باندې د قلم له سرکولو څخه دې دوی منعه کړي، د چاقو کارول د کوچینانو لپاره خطر لري.

•زده کوونکي دې وپوهوي چې د مشق کولو مخکې د کتاب سر مشقونه په غور وګوري ځکه چې د دوی سترګې د تورو له بڼو سره اشنا شي، وروسته دې د کتاب د سر مشق له مخې تمرین وکړي.

دریم لوست

(۳) مخ

لومړی درسي ساعت

(د تدریس وخت دوه درسي ساعته)

| | | |
|---|---|---|
| **د لوست سرلیک** | **د (الف او مد (آ) توری** | |
| **عمومي موخې** | په کرکي قلم د (آ) توري له لیکلو سره د زده کوونکو بلدتیا. | |
| **د زده کړې موخې (پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي) موخې** | له زده کوونکو هیله کېږي چې د دې لوست په پای کې لاندې موخوته ورسیږي<br>• زده کوونکي به په کرکي قلم د (آ) توري تمرین وپوهیږي.<br>• زده کوونکي به په کرکي قلم د (آ) توري مشق وکړای شي.<br>• زده کوونکي به د کرکي په قلم د (آ) توري له مشق او تمرین سره مینه پیدا کړي. | |
| **د تدریس لارې** | ډله ییز او ځانګړي فعالیتونه، پوښتنې او ځوابونه. | |
| **د تدریس اړین توکي** | کتاب، کتابچه، قلم، پنسل، پنسل پاک، د کرکي قلم، تباشیر، مشواني او خط کش. | |
| **د ارزونو طریقه** | عملي او مشاهدوي. | |
| **لومړني یا مقدماتي فعالیتونه** | سلام اچول،پوښتنه، د ټولګي تنظیم، د حاضرۍ اخیستل، د کورنۍ دندې لیدنه، له تېر لوست یادونه او له نوي لوست سره یې اړیکې. | وخت ۵دقیقې |
| | **د انګیزې رامنځ ته کولو پوښتنه:**<br>-تاسو کله په کرکي قلم د (آ) توری تمرین کړیدي؟ | ۵ دقیقې |

| وخت | د ښوونکي فعالیتونه |
|---|---|
| ۳۵ دقیقه | -له زده کوونکو د لوست په اړوند پوښتنې وکړئ.<br>- لوست تشریح او توضیح کړئ.<br>-زده کوونکو ته په کرکي قلم د مشق او تمرین لارښوونه وکړئ.<br>-د لوست فعالیتونه ترسره کړئ.<br>- د زده کوونکو ارزونه وکړئ.<br>-زده کوونکو ته کورنۍ دنده ورکړي. |

**ارزونه**: د خپل ډاډ ترلاسه کولو لپاره چې زده کوونکي په لوست پوهیدلي دی او یانه، د څو پوښتنو په کولو هغوی وارزوئ.

**کورنۍ دنده**: زده کوونکي دې د (آ) توری په کرکي قلم په کتابچو کې مشق او تمرین کړي.

**اضافي معلومات**

•**سر مشق**: هغه لیک دی چې ښوونکی یې لیکي او زده کوونکي د هغې له مخې مشق کوي.

د حسن خط د مضمون په کتابونو کې سر مشق هغه بېلګو ته وایي چې د زده کوونکو د تمرین لپاره په پام کې نیول شوي دي.

د تورو دلیکلو حرکتونه پر غشو ښودل شوي دي چې هر حرکت یوه شمېره لري.

**د بېلګې په توګه**: د ( ۱ ) شمېره د توري د لیکلو پیل او د نورو شمېرو دوام او وروستۍ شمېره د توري پای ده.

د یادولو وړ ده چې د بېلابېلو تورو حرکتونه په ځینو کې کم او په ځینو کې زیات وي، ځینې توري پر یوه حرکت اوځینې نور یې له ( څلورو ) حرکتو څخه په زیاتو لیکل کېږي.

دا قاعده تر ورستي لوست پورې په پام کې نیول شوی ده. زده کوونکو ته د ټولګي په توره تخته او یا د حسن خط په کتابچو کې د قلم حرکتونه ور وښیاست چې زده کوونکي ستاسې د لاس حرکت ووینې او سمه زده کړه ترسره شي.

د زده کوونکو مشقونه سم او اصلاح کړئ او دوی ښایسته او ښکلي لیکلوته وهڅوئ.

همدارنګه هره ورځ د زده کوونکو کورنۍ دنده له نوي لوست څخه دمخه وګورئ، د نوي لوست اړیکه له تیر لوست سره ټینګه کړئ.

شلورم لوست

(٤) مخ

لومړی درسي ساعت

(د تدریس وخت دوه درسي ساعته)

| د لوست سرلیک | د (ب) توري د خطاطي کولو طریقه | |
|---|---|---|
| عمومي موخې | د (ب) او هغې ته د ورته تورو له لیکلو سره د زده کوونکو بلدتیا. | |
| د زده کړې موخې<br><br>(پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي) موخې | له زده کوونکو هیله کېږي چې د دې لوست په پای کې لاندې موخوته ورسیږي<br>• زده کوونکي به د (ب) توري د لیکلو له طریقې سره آشنا شي.<br>• زده کوونکي به د (ب) توري په کړکي قلم خطاطي کړای شي.<br>• زده کوونکي به په کړکي قلم د (ب) توري له لیکلو سره مینه پیدا کړي. | |
| د تدریس لارې | ډله ییز او ځانګړي فعالیتونه، پوښتنې او ځوابونه. | |
| د تدریس اړین توکي | کتاب، کتابچه، قلم، پنسل، پنسل پاک، د کړکي قلم، تباشیر، مشواني او خط کش. | |
| د ارزونو طریقه | عملي او مشاهدوي. | |
| لومړني یا مقدماتي فعالیتونه | سلام اچول، پوښتنه، د ټولګي تنظیم، د حاضرۍ اخیستل، دکورنی دندې لیدنه، له تېر لوست یادونه او له نوي لوست سره یې اړیکې. | وخت ٥دقیقې |
| | **د انګیزې رامنځ ته کولو پوښتنه:**<br><br>-تا سو کله په کړکي قلم د (ب) توری خطاطي کړیدی ؟ | ٥ دقیقې |

| د ښوونکي فعاليتونه | وخت |
|---|---|
| -د لوست په اړوند له زده کوونکو پوښتنه وکړئ.<br>- لوست تشريح او توضيح کړئ.<br>- په کړکي قلم سره د ښه او سم مشق کولو لاره او طريقه زده کوونکو ته ور زده کړئ.<br>-د لوست اړوند فعاليتونه ترسره کړئ.<br>-د زده کوونکو ارزونه وکړئ.<br>- زده کوونکو ته کورنۍ دنده ورکړئ. | ۳۵<br>دقيقه |

**ارزونه**: د خپل ډاډ ترلاسه کولو لپاره چې زده کوونکي په لوست پوهيدلي دي او يانه، د څو پوښتنو په کولو هغوی وارزوئ.

**کورنۍ دنده**: په خپلو کتابچو کې د (ب) توري حرکت په کړکي قلم مشق او تمرين کړئ.

**اضافي معلومات**

ښاغلی ښوونکیه:په ټولو مضمونونو کې، په تیره بیا په هنري مضمونوکې تشویق او هڅونه ډېر مهم او ارزښتناک رول لري. د حسن خط په زده کړه کې د زده کوونکو په هڅونه کې ډېر زیار وباسئ او دوی ته تل سپارښتنه وکړئ چې ډېر تمرین وکړي، ترڅو خطونه يې ښکلي شي.

هغه پوښتنې چې د کتاب په متونو کې راغلي دي، په زده کوونکو کې د انګېزې د راپارولو لپاره دي. د ځوابونو له اوریدلو وروسته ورته سم ځوابونه ورکړئ او مرسته ورسره وکړئ.

د خط لغوي معنا په قلم ليکل دي. د هنر او د قلم د خاوندانو له نظره خط عبارت دی له:

د تورو د شکلو په ځانګړي ډول ليکل او يا په جملو کې د هغې ځای پرځای کول چې معنا ته يې پاملرنه وشي او په هغه د انسان پټ نيت څرګند شوی وي، يا په بل عبارت ( خط د لاس ژبه ده) او د انسان د زړه او مغزو وديعه ګاه ( لکه له چا سره چې په امانت ډول يو څه کېږي) همدارنګه خط د اسرارو او پټو رازونو څرګندوونکي، د خپل واک پيداکوونکي او د آثارو يا سرچينو ساتوونکي دی. اوس به وګورو چې د خطاطي او د ښکلي ليکنې فن څه شی ده؟ دا خطاطي او ښکلي ليکل د ځينو په عقيده علم دی او د ځينو نورو په اند د يادولو او زده کړې وړ هنر دی.

**ښاغلی ښوونکی**: په دې کتاب کې د تدريس د لارښود د بيا ليکونو څخه مو ډه کړيده تاسې کولی شي چې له دې لارښود څخه د ټولو لوستو په تدريس کې ګټه واخلئ.